# روژه دفضیلت او برکتونومیاشت

محمد ابراهیم همت

الله جلﷻ دکائنات دغه منظم سیستم په یوه حکیمانه، مدبرانه اوعالمانه ډول سره پیداکړی، دورځو، شپو، میاشتو اوکلونورا تلل او تغیرات ټول دلوړ قدرت او بالغه حکمت بیلګې دی.

په قمری نظام کې الله جلﷻ یوه داسې مبارکه،منوره او بختوره میاشت پیداکړی چی دزیاتو فضائلو، محاسنواو برکاتو لرونکی ده،دغه میاشت دروژی مبارکه میاشت ده.

الله جلت عظمته په قرآن کریم کې فرمائی:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾ البقرة: ۱۸۳

**ژباړه**: اي مؤمنانو! پرتاسوباندی فرض شوې لکه چې ترتاسې مخکې امتونو باندی فرض کړل شوې ده، ترڅو تاسی متتقیان شی.

ددغه امت او پخوانیو امتونو روژه نیول، ثوابونه او ټول کیفیتونه ډیر یوله بل سره توپیر لری چی په لنډه توګه هغه امتیازاتوته اشاره کوم چی الله جلﷻ ددغه امت روژه تـوته ورکړي دي:

**۱– دروژی میاشت او دقرآن نازلیدل**:

دروژی مبارکی میاشتی یوترټولولوړاودقدروړصفت دادی چی الله پاك پدغه مبارکه میاشت کی قرآن عظیم الشان را نازل کړ، هغه الهی کلام چی (( ولارطب ولایابس الافی کتاب مبین))

یعنی هیڅ لانده اووچ څیزونه په دنیاکی نشته چی پدغه مبین کلام کی ورڅخه یادونه نه وی شوی اودانسانانولپاره پکی هدایت نه وی وړاندی شوی .

داهغه الهی کلام دی چی دکائناتو دمدبراوحکیم ذات جلﷻ څخه دامین الوحی (( حضرت جبرائیلؑ)) په واسطه دځمکې پرامین اوصادق الهي استازی (( حضرت محمد مصطفیﷺ)) باندی ترټولونه په مبارکه میاشت(رمضان المبارك) کی را نازل شو او ورباندی ټول نوي ادیان منسوخ او ددغې الهی ځلیدلې ډیوې وړانګې به دقیامت تروځې پورې ځلیږی، اوپه دغه الهی کلام کی دبشریت ټول ضرورتونه او سوالونه پوره شوی چی جامع، کامل، شامل اوبلیغ نظام دی.

دقرآن کریم نازلیدل پردغه میاشت کی په حقیقت درمضان المبارك ته بی نوره ښکلا او فضیلت وربه برخه کړالله جلﷻ فرمايي:﴿ شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِ ﴾البقرة: ۱۸۵

**ژباړه** : درمضان میاشت هغه مبارکه میاشت ده چی قرآن پکې نازل شوی هغه دخلکو لپاره دلارښوونی مثال اودحق اوباطل جلا کوونکی دی .

**۲- دقدرشپه**: درمضان المبارك دمیاشتې بل لوی فضیلت دادی چی په دغه میاشت کې الله پاك داسې شپه پیداکړې چی ترزرومیاشتونه ډیرفضلیت لری اوالله تعالی فرمایی:

﴿...لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ... ﴾ القدر: ۳

**ژباړه** : د قدرشپه تر زر ومیاشتونه غوره ده .

یعنی ددغې شپې عبادت ترزرومیاشتونه غوره دي اوپکې یوساعت راځی چی دمسلمان دعاالله پاك سمدلاسه قبلوي اوپه نبوي احادیثوکې ددغې لحظي دفضیلت اوغوره والی په هکله ذکر شویدي چي دروژی په لسوآخرینوورځوکی دلیلة القدراحتمالات زیات دي، نوځکه ددغه فضیلت لاسته راوړلولپاره دروژې میاشتې لسوآخرو ورځوکې اعتکاف کول سنت طریقه ده، چی مسلمان بنده دورځې روژه په خوله اودشپې لخواپه ویښ ته تیروی ترڅو دغه لوی جوهرلاسته راوړي ، دادی دمسلمان رازاونیاز دخپل حقیقی معبودسره ! !

**۳- دجنت دروازو پر انیستل**:

کله چی دغه مبارکه میاشت را داخله شي نوالله پاك دخپلوپاکو اومخلصو روژه تیا نو بندگانو لپاره دجنت دروازی را خلاصې کړی اودوزخ دروازې وتړل شی، یعنی څوك چی پدغه میاشت کی مړکیږی نوالله به یې ددوزخ له اوره ژغوري او جنت ته به یې داخلوې، همدارنگه شیطانان به تړل کیږی او هغه خباثت چې په نورو وختونوکې به ئی کاوه، دروژې په مبارکه میاشت کې ئې نه شي کولای.

رسول اللهﷺ فرمائی:

((اذادخل رمضان فتحت ابواب الجنة وغلقت ابواب جهنم وسلسلة الشياطين)) رواه بخاری

**ژباړه**: کله چی رمضان را داخل شی نودجنت دروازی خلاصی اوددوزخ دروازی بندی کړای شی او شیطانان په ځنځیرونوسره وتړل شی.

**۴- روژه تی ته به الله جل جلاله پخپله بدله ورکوی**!

داچی روژه نیول په حقیقت کی دبنده او خپل خالق ترمنځ یوپټ رازدی او روژه نیول دمسلمان بنده نهایت اخلاص اوصدا قت دخپل معبودپه وړاندی بیانوی، که دغه الهی مینه اوخوف نه وي نوروژه تی به په کومه گوښه کې ونشی کولی چی روژه وخوری او پرته له یوه علام الغیوب ذات جل جلاله څخه به ئی بل هیڅوك هم ونه وینی، خودغه کار نکوی او خپله روژه که څه هم سخت شرایط وی، ډیروړی اوتږی هم وي، دالله په خاطر نه خوری؟

نوهرکله بنده دخپل پروردگار سره دومره مینه ولري اوځان ورته نږدی کړی، نوهغه الله جل جلاله خودیرغیرتی او ډیر ترټولونه زیات مهربان اوخپل بنده ته نږدی کیدونکی مقتدر ذات دی، نوهغه دخپل پیغمبر په ژبه فرمايي چی زه به دغه رنگه بنده ته پخپله مکافات اوبدله ورکوم.

رسول اللهﷺ فرمایلی دي .

(( کل عمل ابن آدم له ،الحسنه بعشر امثالها الى سبعاه ضعف ، يقول الله عزوجل : الا الصيام فانه لى و انا اجزى به ، يترك شهوته و طعامه و شرابه من اجلى ،للصام فرحتان ، فرحه عند فطره و فرحه عند لقا ربه ، ولخلوف فم الصام طيب عندالله من ريح المسك )) رواه البخاری

**ژباړه**: بنی آدم چی هر نیك کار وکړی نوالله پاك به یې بدله ورکوی، دنیك عمل په بدل کی به الله جل جلاله له طرفه یو په لسه تراوه سوه پوری بدلې ورکول کیږی الله تعالی فرمایي: چی دروژی نه پرته دابدلې به انسان ته ورکول کیږی خو دروژې اجراو بدله به زه پخپله ورکوم ځکه روژه یی زمالپاره نیولی اوزه به یې بدله ورکوم، دغه بنده شهوانی غرایز، خوراك اوڅښاك زماله پاره پرېښي ؤ دروژه تی لپاره دوی خوښي دي. یوه داده چی کله روژه ماتی کوی اوبله لویه خوښی کله چی دخپل رب سره ملاقی کیږی اوروژه یې دخولی بدبوېي دالله په وړاندی چې دمشکو دخوشبوېي نه هم گرانه اوخو ږه ده څرگنده ده.

**۵— روژه دمسلمان شفاعت کوی**:

دروژی مبارکی میاشتی بل لوی فضلیت دادي چی دالله جل جلاله په وړاندی به دروژه تی شفاعت کوی اودده دبښلوپه هکله به الهی دربارته شفاعت کوی، په مبارك حديث کی راغلی دی:

(( الصيام والقران يشفعان للعبد يوم القيمه، يقول الصيام اى رب انى منعته الطعام والشراب بالنهار فشفعنى فيه، ويقول القران رب منعته النوم با لليل فشفعنى فيه، فيشفعان ))

**ژباړه**:

روژه اوقرآن دقیامت په ورځ دبنده لپاره شفاعت کوی، روژه به وایی: اي ربه دغه ستابنده مادورځی له پلوه دخوراك اوڅښاك څخه بندکړی و، نوماورته شفاعت کوونکی وگرځوې، نوالله تعالی به ددغو دواړوشفاعت دبنده په حق کی قبول کړی .

خومره لوړه مرتبه ده چی دمسلمان بنده شفاعت به قرآن او روژه دخدای په وړاندی کوی ، هسی خو هم بنده په خپل کمال اوعبادت سره جنت نه شی گټلی، مگر دالله رحم اوشفاعت کوونکی وی !!

**۶- روژه د مسلمان گناه وی له منځه وړی**:

انسان تل دخطاکاری، تیروتنې اوګناهانوښکارکیږی، یوازی دالله تعالی هغه معصوم بندګان پیغمبران وچی ورته ګناه وی نه منسوبیږی ځکه هغوی دالله پاك په خاصه پالنه اوروزنه کې و او ددوی شخصیتونه په الهی تائیداونصرت کې پو ښل شوی و، که څه هم رازرازکړاووته، ستونزی اوسختی وربانددی راغلی، شهیدان شول، په وینورنګ اودکفاراوو داسلام ددښمنانولخوا نه وکړیدل، خوبیاهم سره ددې دلوړعزم، صبراو لوړوصفاتولرونکی و.

بله طبقه دفرښتوده چی الله تعالی دوی ته نفس ندی ورکړی اوشپه او ورځ دالله ﷻ په عبادت کی مشغول دی( یفعلون مایومرون ) دی .

خودریمه طبقه دانسانانواوپیریانوده چې داعادی ډلی دی، اوالله پاك به یې دنیکو اعمالو په کولو ورته لوړی درجی او نعمتونه ورپه برخه کړی، په مبارك حدیث کی راځی چی په روژه نیولودمسلمان تیری ګناه وی خدای ﷻ وربښی او ورته مغفرت کوی، رسول اللهﷺ فرمایی:

(( من قام رمضان ایماناًواحتساباً غغرله ماتقدم من ذنبه )) رواه مسلم

**ژباړه**: څوك چی درمضان دمیاشتی روژه دایمان په رڼاکی ونیسی اویادروژی په میاشت کی ډیرعبادتونه دثواب په نیت سره وکړی، قیام اللیل، تراویح، دقرآن کریم تلاوت، اعتکاف.... نوالله پاك به ورته تیری ګناوی وبښی (( اللهم اغفرلنا ما تقدم من ذنوبناوما تأخر ))

**۷- روژه روغتیایی ګټی لری** :

روژه دډیرو زیاتومعنوی ګټو او ثوابونوترڅنګ رازرازجسمانی او روغتیائي ګټی هم لری، چې داوسنی پرمخ تللی طبابت علماوهغه په ډاګه کړی اوځینوغیرمسلمان ډاکټرانوچی دالهی عباداتو فوایداو پټ رازونه دانسان پرجسم او روغتیابانددی ولیدل، خاصتاًدزنا، شرابو، مخدره توکودخوګ دخوښی اونوروحرمت اوهغه ګټی چی په لمانځه اوداسه، روژی، زکات، حج اونورونفلی عباداتوکی دعلمی اوتحقیقی اړخه څېړلي نوبې له ځنده بې دشهادت کلمه ویلي اومسلمانان شویدي، هغه چی دتعصب عینکی بې په سترګو ندی خوری خو ډیر ی بیاداسی وی که هرڅومره دعلمی څېړنو او پلټنو په پایله کې الهی لوړحکمت اودحلالواوحراموفلسفه ورته جوته هم شي خوبدبختانه دپوچ تعصب چشمې ئې په سترګوکړي اوپه ایمان راوړلو اواسلام قبلولوباندی ندي بریالی شوی .

ډاکتران وایی چی په روژه نیولوسره دانسان دمعدی اوهاضمې سیستم بیرته له سره فعالیږي، کله چې دغه الله تعالی جوړکړی منظم سیستم دیوه کال په اوږدوکې سترې اوضعیف شی نو دروژی په نیولوسره خپل قوی فعالیت نوی کوی، همدارنګه انسان دډیروقلبی امراضوله اخته کیدوڅخه ژغوری، ځکه روژه نیول وینه صافوی، کله چی وینه صفاوی نوزړه یې په ښه توګه ټول بدن ته پمپوی اوسړی دوینی په غوړو، شکری اونوروناروغیو ته اخته کیږی.

**۸- روژه داعتیادمخه نیسی**:

ځینی خلك متأسفانه راز رازناوړه عادتونه لری، بیاپه تیره زموږپه افغانی ټولنه کی خو دوه شیان ډیرمعمول اوخلك وربانددی روږدی دی هغه: نصوار، سګرت اوچلم دی اوکله چی دروژی میاشت راشی نو هغه کسان چی په داډول ناوړه شیانو روږدی وی ددوی اواوبونه یې زیاته تلوسه خپل عمل نصواریاسګرت ته زیاته وی، ځینی خولا داسی هم وی چی روژه ماتی ئې لوموړی په نصوارو یاسګرټوسره وی .

داچی داناوړه عملونه څنګه اوڅه ډول دي او په زیانونوبې سره بحث وکړو، خیردیره اوږدیږی یوازی داوایوچې دروژې مبارکې میاشتې دفضایلو اوبرکاتوڅخه یوداهم دي چی داډول روږدي خلك که چیری له ځان سره کلك عزم اوهود وکړی چی داکارونه به پریږدی. نوکولای شی، او ډیرکسان چی ددغه مبارکې میاشتې په برکت سره یې دکلونو کلونوروږدی توب، اوبدعملونه پریښودل اودسګرټ اونصواراونورمسکراتو اودخانیاتو ډلي یې اورته واچول.

**۹– دروژی ټولنیزي ګټی** :

داچې دغه مبارکه میاشت څه اجتماعی او ټولنیزي ګټې اوښګڼې له ځان سره لری؟ ډیر اوږدبحث دی یوازی څو ټکوته اشاره کووهغه داچی الله پاك انسانان دټولنیزمخلوق په توګه پیدا کړی اوپه ټولنه کې اوسیدلې ورته اړین دي اوپه یوازیتوب اوانفرادي توګه ژوندکول ورته ګران دي، ځکه نشي کولې دژوند ټولې چارې په یوازیتوب سره سرته ورسوي.

کله چی انسان په ټولنه کې ژوندکوی نوګوری چی الله پاك خلك رنګارنګ پیداکړی اوټول یوشان ندی، لکه چې دانسانانوپه رنګونو اوژبوکې تفاوت وی، همدارنګه ئی په بډایتوب، بی وزلۍ اوژوند په نوراړخونوکی تفاوتونه موجوددی.

کله چی سړی په ګیډه موړ، په تن پټ او محتاج نه وی نوځینی بی احساسه انسانان دا فکرکوی چی ټول خلك په نس ماړه، په تن پټ او هیڅ احتیاجات نلری، لکه چی وائی:

(( موړدوږی په حال څه خبردی او سپوردپلی))

خوکله چی سړی وږی شی، تږی او ستومانه یا ناروغه شی نوټول خلك ورته وږی، تږی،ستومانه اوناروغه ښکاریږی په روژه کې الهی حکمت همدا دی چی مسلمان بنده هغه که پادشاه دی که ګدا، که وزیردی که فقیر، که شتمن دی که بی وزله ټول په یوه وخت اویوډول شرایطوسره دسهاره ترماښامه پوری نه څه خوری، نه څه څښی اونه به هم جنسی غرایزوته لاس غزوی، نودلته اسلامی ټولنیز عدالت تامین شو، کله چی دغه بډا شتمن سړی تربیګاپوری روژه ونیسی نودهغه بیوزلی مسکین له حالته اولوږی خبریږی اوورسره دا احساس پیداکیږی چی دالوږه اوتنده خو ډیره سخته ده، هغه بیچاره بیوزله خوټول عمرپه دغه ناداری کې تیروی، نوراځه دالله په رضاورسره مرسته وکړه.

اوهغه بی وزلی غریب انسان چی دبډائی له طرفه داانسانی اواسلامی حرکت ووینی نوورسره ئی په زړه کی مینه پیدا اوبالاخره په ټولنه کې دانسانی زړه خوږی، راکړی ورکړی، مرستی اوکومك فرهنګ را ژوندی او ورو ورو پیاوړی کیږی.

همدارنګه بډاانسان سره دامفکوره پیدا کیږی چی دامال اوشتمنی په مابانذی دالله پیرزوینه ده باید شکرئی وباسم، که نه دفلانی سړی په ډول خوغریب کیدل الله ته آسانه دي داجایداد څوورځی زماپلاس کی امانت دی.

اوداچی بډای اوبیوزلی به دواړه دغه روژه نیسی، داداسلامی شریعت په عدالت اومساوات باندې دلالت کوي اوداچی دالله په وړاندی نیك سړی هغه دی چی تقوااولری اوقرآنی لارښوونې پرځای کړي.

الله پاك دي موږمسلمانانو ته توفیق را په برخه کړی چی دروژې مبارکه میاشت په، صیام، قیام، اعتکاف خیراتونو اوصدقاتو، دعااوتضرع سره بدرګه کړو، اوپه ټولواندامونوسره روژه ولرونه داچې یوازې خوله موله خوړلو اوڅښلوڅخه تړلې وي اونفس اماره بالسوء موبې جلبه خوشې کړی وي.